# غوره ويناوی

# غـــــــــــــــــــوره ويـــــــــــــــــناوې

۱ ---ښه سړی هغه ده چه په ښو خلکو ګران اود بدو خلکو زښت وی.
۲ ---څوک چه دینی علم ددی په خاطر زده کوی چه دخلکو پام ځان ته راوړی ځای به یی دوزخ وی.
۳ ---ستر سړی څلور صفتونه لري کمینی،ادب ،مهرباني ،او عدالت.
۴ ---کله چې یوسړی بل ته پور ورکړي نو دپور وړي سوغات دی نه قبلوي.
۵ ---څوک چه دظالم په ظلم پوهیږي او سره لدی دهغه دتقوی لپاره زیارباسی کامل داسلامیت له دایری څخه وتلی ده.
۶ ---ښکاره دښمنی د منافقی دوستی څخه ډیره ښه ده.
۷ ---د ملګری په نیمګړتیاو پسی مه ګرځه او کنه بی ملګری به پاتی شی.
۸ ---د چرګ حلالولو لپاره د غوای حلالولو چاړی ته ضرورت نشته.
۹ ---ستر سړی په ځان فشار راولي او کوچنی سړی په نورو.
۱۰ ---هیڅ شی دخدای (ج) په وړاندی دومره غوره نه دی لکه چی څوک خپل قهر دده دخوښی په غرض وزغمي.
۱۱ ---دقیامت په ورځ د قدر او منزلت له مخی د ټولو ټیټ سړی هغه به وی چه دخپل علم څخه یئ ګټه نه وی اخستی.
۱۲ ---پاک اوسه بی باک اوسه.
۱۳ ---ډیری خبری د پوهی دلیل نه ده.

د غوره خلکو غوره ویناوی خضرت سلیما ن (علیه الصلوۀ والسلام): _____ فرمايي -:
د علم زده کړه تر ټولو ښه او غوره صدقه ده...
ددين زده کول ستره پانګه او وياړمنه شتمني ده...
په ټولو زحمتونوکي اجراو ثواب نغښتي دي...
چا چي د زړه راز نوروته څرګند کړ هغه نا پوه او چي تر پايه پټوي هغه هوښيار دي...
د بي عقله په لاس سوال ځواب ليرل خپلي پښي په تبر وهل دي...
دروغ هيڅ وخت په رښتياووبري نه شي موندلاي...
نا پوهانو ته د هغوي د بي باکه ځواب مه ورکوئ، هسي نه چي تاسوهم د هغوي په څيرشي...
الله تعالي هغه خلك نه خوښوي چي د ورونو تر منځ د نفاق اور ته ببوزي وهي...
كه چيري د انسان چلن د الله له خوښي سره برابر وي نو د ځان د ښمنان هم دوستان كولاي شي...
خپل ځان عقل مند مه ګڼي د الله نه وډار شي او له بدو نه لاس واخلئ...
حضرت ادريس (عليه الصلوئوالسلام) :_____ فرمايي-:
مه پخپله ددروغو قسمونه خوري او مه نور خلك ورته هڅوي ځكه داسي كول ستره ګناه ده...
د كړو وړو د ښه كولو لپاره تر ټولو لومړي د نيت ښه كول ضرور دي...
د الله د ټولو نعمتونو بشپړه شكر دانسان په وس پوره نه ده...
حكمت (دانايي) د روح غذا او د ژوند دوهم نوم دي...
د نورو په اسوده ژوند كينه مه پيدا كوئ ځكه چي دغه خوشحاله ژوند ډير نيمګړي او نيمه خوا دي ...
حضرت عيسي (عليه السلام) : _____فرمايي-:
ښه عمل هغه دي چي له خلكو څخه بي د ستايلو تمه ونه شي...
كه تاسو د نورو اشتباهات وبښي نو الله به ستاسي نيمګړتياوي عفوه كړي...
ځان ښودنه(ريا) د ثواب جرړي وباسي او له منځه وړي...
د الله له ذكر نه پرته ډيري خبري مه كوئ كه نه نو زړونه به مو سخت شي
سخت زړي د الله (ج) نه ډير لري وي...
پر ځوريدلو خلكو زړه سوي وكړئ او د نيكمرغي دعا ورته وكړي چي له ستونزو نه نجات ومومي...
چي كينه درسره كوئ مينه ورسره كوئ ، چي بد درته وايي قدر يي كوي ، چي ځوروي مو دعا ورته كوي...
ددنيا پرنعمتونو مه نازيږي ، څه معلومه ده كه همدا نن شپه مو ژوند درنه وغوښتل شي...
په دنيا كي د ميلمنو په څير ژوند تير كړي ، چي نه كور لري او نه اور....
كه غواړي چي زما سره دوستي وكړي نو په زړونو كي به د دنيوي جاه او جلال نه كركه پيدا كوئ...

# غـــــــــــــــــــــوره ويـــــــــــــــناوې

مرګ له ټولونه رېښتيني او آميد تر ټولو نه دروغجن تصور دي...
په دنيا کي له خلکو سره راشه درشه په اخرت کي د نجات او برياليتوب سبب ګرځي...
پام کوئ ! ښه عملونه خلکوته د ځان ښوونې لپاره مه کوئ ، که نه نو د الله (ج) په وړاندي به ستاسو لپاره هيڅ اجر او ثواب نه وي ...
د سبا لپا ره خواړه او توښه مه ږدي ، سبا پخپله له ځانه سره خواړه او توښه راوړي...
شك نشته چي دالله (ج) د بندګانو سره مينه کول له خپل رب سره مينه کولو ته وايي.
د سترګو په ليد حاکميت ولري له همدي نه په زړه کي پيدا کيږي او د فتني د راولاړولو لپاره همدا کفايت کوي.
حضرت لقمان (عليه الصلوة والسلام) :____ فرمايي-:
ملګري ته د راز خبره مه کوئ کيداي شي سبا ستاسو دښمن شئ.
کوم کار چي د الله د رضا لپاره کوي په هغه کي د انسانانو نه ويره مه کوي.
په کوم نعمت کي چي شکر وي د هغي پاي نشته او په کوم نعمت کي چي ناشکري وي د هغه پايښت نه شته.
له ناپوهانو سره ډيره ناسته ولاړه مه کوي چيري تا سو به هم جاهلان کړي.
ډير اوري او لږ غږيږي.
الله او مرګ هيڅکله له ياده مه باسي ، خپله ښيګړه او د بل بد ګړه هيره کړئ.
په هر مجلس کي چه د الله (ج) ذکر کيږي ګډون پکي کوي او د بدانو له ناستي نه ځان ليري ساتئ.
که د ژبي له زيان نه ځان ژغورل غواړي نو چوپ (غلي) اوسئ.
په لمنځه کي د زړه ، په مخفل کي د ژبي ، په غصه کي د لاس او په دسترخوان د ګيډي ساتنه کوئ.
رېښتا خبره مه پټوي او دروغ خبر له سره مه کوئ.
په علم سره زړه داسي ژوندي کيږي لکه وچه ځمکه چي پر باران.
د عقل په څير هيڅ دولت نشته او د جهالت په څير هيڅ غربت.
سهار د لمر ختو په وخت کي مه ويده کيږي ځکه د ا د عبادت وخت دي پدي وخت کي خوب د بدبختئ نه ډك وي .
حضرت ابو بکر صديق (رض) :____ فرمايي-:
هر بي علمه يو رنځ وګڼي او هر بي عمله علم يو بي ګټي څيز.
علم د پيغمبرانو ميراث او شتمني د کافرانو(فرعون او قارون. (
خبر اوسي !چي جهاد پري نږدي ، ځکه هر قوم چي د الله په لاره کي جهاد پريږدي هغه خوار او ذليل کيږي.
په زغم کي هيڅ تاوان نشته او په ژاړه کي هيڅ ګټه.
که غواړي چي هوسائي مو په برخه شي نو خپل ژبه د شکايت او ګيلو نه لري وساتئ.
خوار او بيوزله هغه څوك دي چي په دنيا کي دوست او ملګري ونلري.
د موراو پلار خوشحالي په دنيا کي د نيك بختي سبب ګرځي او په اخرت کي د ژغورولووسيله.
اوښکي د هغي ورځي په تيريدو تويوي چي بي ښيګړي مو تيره کړي وي.
د هر شي د ثواب پيمانه موجوده ده: خو د صبر او زغم د ثواب اندازه نشته.
رښتيا امانت او دروغ خيانت دي.
حضرت عمرفاروق(رض):____فرمائي -:
لږه ويناحکمت ،کم خواړه صحت او لږ خوب عبادت دي.
له هغوخلکو سره مشوره کوئ چي له الله (ج) نه ويريږي.
تر ايمان وروسته ستره پيرزوينه نيك خويه ښځه ده.
طمع بيوزلي،د زړه غنا ، بډايي او غچ نه اخيستل زغم دي.
هر شي يو ښکلا لري د نيکي ښکلا داده چي سمدستي وشي.
حضرت عثمان غني (رض):____فرمائي-:
ټيټه وينا،ښکته کتل او منځني راشه درشه د ايمان نخښي دي.
خپل پيتي پر بل مه اچوئ که لږ وي يا ډير.
توره بدن ټپي کوي او بده وينا روح.
ټولي نيکي له حيا ء او ټولي بدي له بي حيايي سره تړلي دي.

ځيني وخت د جرم بخښل مجرم ته جرآت ورکوي.
حضرت علي (رض):____فرمائي -:
له الله نه غافل نشي چې هغه له تا سونه غافل نه شي.
اميدوار اوسئ ځکه چي مايوسي ګناه ده.
دشتمنو دښمنان ډيروي او د عالمانو دوستان.
غوره کمل ادب او ښه عبا دت صدقه ده.
د حيا جامي واغوندې چي ټول عيبونه مو پټ شي.
حضرت عا ئشه صديقه (رض):____فرمائي-:
دميلمه په وياړ ډير لګښت په اسراف کي نه راځي.
لږ خواړه درنځونو دوا او په ډکه ګيډه خواړه د ناروغيو مور دی.
دسراغ له رڼا نه ګټه واخلی او دي ته مه ګوري چي د چا په لاس کي دی.
د ژبي ساتنه ثواب دی.
ستاسو لپاره د خير خبره همغه ده چي له شره ځان وساتی.
کوچی له پغمبر صلی الله عليه وسلم پنځه ويشت پوښتني لری
پوښتنه: غواړم چي بډای شم؟
ځواب : قناعت غوره کړه، بډای به شي.
پوښتنه : غواړم چي لوی عالم شم.
ځواب: تقوی او پرهېزګاری غوره کړه عالم به شي.
پوښتنه: غواړم چي عزتمن شم
ځواب: خلکو ته لاس مه نيسه عزتمن به شي.
پوښتنه: غواړم چي لوی سړی شم.
ځواب: له خلکوسره مرسته کوه.
پوښتنه: غواړم چي عادل شم.
ځواب: چي ځان ته يي خوښوې نورو ته يي هم خوښوه.
پوښتنه: غواړم چي ځواکمن شم.
ځواب: په خدای جل جلاله باندې باور اوتوکل کوه.
پوښتنه: دخدای جل جلاله په دربار کي غوره درجه غواړم
ځواب: د خدای جل جلاله ذکر کوه.
پوښتنه: غواړم چي روزی مي پراخه شی.
ځواب: تل په اوداسه کي اوسه.
پوښتنه: غواړم چي دعا مي قبوله شی.
ځواب: له حرامو نه ځان ژغوره.
پوښتنه: غواړم چي ايمان مي بشپړ شی.
ځواب: اخلاق ښه کړه.
پوښتنه: دقيامت په ورځ له خدای جل جلاله نه داسي ليدنه غواړم چي راځخه خوشاله وی.
ځواب: ژر ترژره له جنابت څخه وروسته غسل کوه.
پوښتنه: غواړم چي ګناهونه مي کم شی.
ځواب: زيات استغفار وايه.
پوښتنه: غواړم چي الله جل جلاله رحم راباندې وکړی.
ځواب: دخدای جل جلاله په مخلوق رحم کوه.
پوښتنه: غواړم چي خدای جل جلاله مي پرده وکړی.
ځواب: دخلکو پرده ساته.
پوښتنه: غواړم چي رسوا نه شم.

ځواب: له زنا څخه ځان ژغوره.
پوښتنه: غواړم چي الله جل جلاله اورسول صلی الله علیه وسلم ته گران شم.
ځواب: کوم کارونه چي خدای جل جلاله ته ورگران وی هغه ځان ته گران کړه.
پوښتنه: غواړم چي دخدای جل جلاله تابع شم.
ځواب: فرائض مه پرېږده.
پوښتنه: غواړم چي احسان کوونکی جوړ شم.
ځواب: دخدای جل جلاله داسې عبادت کوه لکه ته يې چي وينې اوياتا وينې.
پوښتنه: يارسول الله ! گناهونه په څه شی بښل کېږی؟
ځواب: اوښکې، عاجزی، ناروغی.
پوښتنه: کوم شيان ددوزخ اور سړوی؟
ځواب: په تکليفونو باندې صبر کول.
پوښتنه: د الله جل جلاله غوسه په څه شی سړيږی؟
ځواب : پټه صدقه ورکول او صِله رحمی.
پوښتنه: له ټولو نه لويه گناه کومه ده؟
ځواب: بداخلاق اوکنجوسی.
پوښتنه: له ټولو نه لويه نيکی کومه ده؟
ځواب: ښه اخلاق، عاجزی او صبر.
پوښتنه: غواړم چي دخدای جل جلاله له غصې نه وژغورل شم.
ځواب: خلکو ته غصه مه کوه

♣هربې عمله عمل يورنځ وگنی،! اوهربې عمله علم يو بې گټې شی.

♣خبرداراوسی،! چي جهاد پرينيږدی ځکه هرقوم چي دالله(ج) په لارکې جهاد پرايښی هغه خواراوذليل شوی.

♣ډيربد بخته هغه څوک دی چي پخپله مړشي خوگناه يې ژوندی وي، ديوداسي عمل بنسټ يې ايښی وي چي دهغه دمړيني وروسته ادامه پيداکوي.

♣که غواړی هوسايي موپه برخه شي خپله ژبه دشکايتونواوگيلو نه ليري وساتي.

♣دسترگوساتنه وکړئ، ځکه داده زړونو وردی اوټول افتونه له همدې لارې زړه ته ننوزي.

♣له غلا اوخيا نت څخه ډډه وکړئ، ځکه داعملونه لوږه اوفقررا منځ ته کوي.

♣څوک چي دالله(ج) په لارکي مشغول وي، الله(ج) به دهغه کارونه سرته رسوي.

♣دايمان تکميل په جهاد، دروژې پوره والی په صدقه، دحج پوره والی په اوضحيه اودلمانځه تيروتنه په سجده سهوي سره پوره کيږي.

♣حقيقت دادی چي انسان يوډير ضعيف اوناتوانه مخلوق دی،د حيرانتياخبره داده چي څنگه له ډيرقوي اوزوروړخدای(ج) څخه نافرماني کوي.

♣دچاچي ژړاپه وس کي نه وي پوره، هغه به په ژړيدونکوڅه مهرباني وکړي.

»داميرالمومنين حضرت ابوبکرصد يق(رض) له ويناووڅخه«

حضرت معاذ(۱) بن جبل رضی الله تعالی عنه بيان کوي چي نبي کريم صلي الله علېه وسلم ماته دلسو خبرو وصيت کړی دی

)۱ (دالله جل جلاله سره هيڅ شريک مه نيسی که څه هم تا وژني او يا دې سر پرېکوي
)۲ (دخپل مور او پلار ناپرماني هيڅکله مه کوی که څه هم تاته دخپلې ميرمنې ،مال او دولت پرېښولو امر وشي
)۳ (فرض لمونځ هيڅکله قصدًامه پرېږده څوک چي فرض لمونځ قصدًا پرېږدي له هغه څخه الله جل جلاله بېزاره دی
)۴(شراب هيڅکله مه چښئ ځکه هغه دهرې بې حيايې بيخ دي
)۵ (دگنا څخه ځان وژغورئ ځکه دگناه په وجه الله جل جلاله ناراضه کيږي
)۶ (دجهاد له ميدان څخه مه تښتې که څه هم (نور ستا ملگري) شهيدان کيږي.
)۷ (چي کله په خلکو کښې (وبايي) مرگ خپور شي او ته هلته موجوديې نو هلته پاته شه (هغه ځای مه پرېږده.(
)۸ (او دکوم چاچي خرچه پرتا لازمه وي (ښځه وې،اولاد وي يا نور ) پر هغوئ شه ما ل خرڅ کړه.
)۹ (او هغوئ ته د اد ب په ورکولوکښې خپل لرگی مه ږده.

)۱۰ (او هغوئ دالله جل جلاله داحکامو او قوانینو په اړه وویړ وه.
) مشکوات المصابیح ص۱۸،مسند احمد(
)۱ (حاشیه کذافی مشکوات عن معاذ من غیر انتساب واخرجه ال امام احمد فی المسند،ج ۲۳۲۵مسند معا ذ بن جبل(رض(
داخویي هدایت وکړی چي د مور او پلار نافرماني هیڅکله مه کوی ،که څه هم تاته امر وکړي چي خپل کور والا ، مال او دولت پرېږده .دا
واولاد ته خطاب دی چي ،د انتهایي فرمانبرداری دترغیب ورکولو لپاره هدایت وکړی مور او پلاردعقل او فکر څخه کار اخلي، او کوم
ظالمانه امرنه صادر وی ، خپله دي فکروکړي چي د دې امر انجام څه کیږي؟او هغه خپله او دهغه میرمني او اولادته زمونږد امر په منلو سره
کوم تکلیف رسیږي؟
اودا خویي هدایت وکړی چي کله یو کس د(وبا)په ځائ کښی وی چي هلته خلګ مړ کیږی نو هلته دي پاتي شي ، په دې کښي فایده داده چي
دعامي وبا په لېدلو سره خلګ تېښته کوي نو ومړو ته به کفن او دفن څوک ورکوی.
همدارنګه پدې کښي پر تقدیر دایمان ښکارندویی( یعنی مظاهره)هم ده ، چي څه په تقدیر کښي دي هغه کیږی، دوبا دځائ څخه تېښته کول
دمرګ څخه ژغورونکي نه ده.
آخري دري نصیحتونه داهل او عیال اړوند دي دهغه مطلب دادي چي پر کورنیانو باندی ښه او حلال مال خرڅ کړئ ، دهغوئ دآرام او راحت
خیال وساتئ ، مګرهغوئ په سختي کښی هم وساتی ترڅوچي هغه دالله جل جلاله دحکمونو څخه غافل پاته نه شي او دنرمی له وجي څخه
بې ادبه نشي .
)۲ (حضرت عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه روایت کوی چي رسول کریم صلي الله علېه وسلم زما اوږه ونیول هدایت یې وکړو په دنیا
کښی دارنګه اوسه څرنګه چي یو کس په سفر کښی پر یو ځای ولاړوی بلکه (له دې څخه هم دنیا بې ثباته وګڼه او) داسی اوسه څرنګه چي پر
لارتلونکي مسافر وي . له دې نه وروسته عبدالله بن عمر رضی الله تعالی عنه وضاهت کوی وایی چي کله ماښام شی دسهار انتظار مه کوه او
چي کله سهار شي نو دماښام انتظارمه کوه،اوله ناروغتیاڅخه مخکښی روغتیا غنیمت وګڼه غوره اعمال کوه او دمرګ څخه مخکښی ژوند
غنیمت وګڼه په ښو اعمالو کښی ولګېږه.
) مشکوات المصابیح
ص۱۳۹(
په بل روایت کښی داسي دی، چي نبي کریم صلي الله علېه وسلم داهم وویل چي خپل ځان په مړوکښی شمارکړه.
) مشکوات ص۱۳۹(
په مړو کښی دشمارېدلو مطلب دادی چي مرګ دومره اندازه قریب وګڼه ، هر وخت داخیال کوه چي اوس مرګ راځي او اوس مرګراځي اوتر
شونی حده پوري نېکی کونکی اوسه او ژوند دآخرت په کارو کښی صرف کړه ،خبر نشته چي مرګ به کله راشی.
)۳ (حضرت عبدالله بن بسر رضی الله تعالی عنه روایت کوی چي یو سړی دنبي کریم صلي الله علېه وسلم څخه پوښتنه وکړه چي یا رسول الله
صلي الله علېه وسلم !په اسلام کښی خوشیان ډیر دی چي دهغوی زمه واری هم پر مونږ ډیره ده.
له دې وجي ته مونږ ته یو داسی شی راوښیه چي زه په هغه کښی مشغول اوسم (چي هغه زما د خلاصون او د درجو دبلندئ لپاره بس وي )نبي
کریم صلي الله علېه وسلم وویل ستا ژبه تل دالله جل جلاله په ذکر لنده وساته.

( مشکوات امصابيح ص ۱۹۸،ترمذی(
)۴ (حضرت ابوايوب انصاری رضی الله تعالی عنه وايي چي يو سړی دنبي کريم صلي الله عليه وسلم مخی ته راغلی سوال يي وکړی چي ماته
لنډ نصيحت وکړه نبي کريم صلي الله عليه وسلم وويل چي کله پر لمانځه ودريږي نو داسی لمونځ کوه څرنګه چي تا ټول شيان پريښي وی .
او داسی خبري مه کوه چي صبا پرپښېمانه يي اوچي يوڅه دخلګو سره ورسره وی دهغه څخه نااوميده اوسه(يعنی طمع مه ترې کوه.(
) مشکوات المصابيح
۴۴۵احمد(
)۵ (حضرت ابوهريره رضی الله تعالی عنه وايي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم وويل: څوک دی چي زما څخه داخبری (چي ما يي ښودل
غوشتل) حاصيلي کړي ،بيا پر هغه خپله عمل وکړی يايي داسي چاته وروښيي چي هغه عمل پرې وکړي ماوويل يا رسول الله صلي الله عليه
وسلم !زه داسی کوم څرنګه چي تا زما لاس ونيوی او پنځه خبری دی (پر پنځو ګوتو راوښودلې.(
)۱ (دحراموڅخه ځان ژغوره نو دټو لو څخه به زيات عابد يې.
)۲ (چي څه الله جل جلاله درکړي وی په هغه راځي اوسه نو دټولوڅخه به زيات مالداره يې.
)۳ (دخپلو ګاونډيا نو سره غوره چلند کوه نو پاتی ځای
)۴ (دخلګو لپاره هغه خوښوه چي له ځان لپاره يي خوښوې نو مسلمان يې.
)۵ (ډيرمه خانده ځکه ډيره خندازړه وژني.
( مشکوات المصابيح ص۴۴۰، احمد، ترمذي(
يعني بعضی خلګ ډېره خندا دزده خوشحالی ګڼی خوداغلطه ده.
)۶ (حضرت عمر بن ميمون رضی الله تعالی عنه وايي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم يو سړی ته نصيحت کوي چي پنځه شيان تر پنځو
شيانو تر مخ غنيمت وګڼه.
)۱ (جوانی تر ضعف وړاندي.
)۲ (روغتيا تر ناروغتيا وړاندي.
)۳ (مالداري دغربي وړاندی.
)۴ (فراغت تر بوختيا وړاندی.
)۵ (ژوند تر مرګ وړاندی .(مشکوات المصابيح ص ۴۴۱ترمذی وهو مرسل(
)۷ (حضرت ابوموسٰی رضی الله تعالی عنه وايي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم وويل څوک چي له دنيا سره مينه کوی هغه وخپل آخرت ته
زيان رسوي او څوک چي له خپل آخرت مينه کوی هغه وخپلي دنيا ته زيان رسوي ، له دې وجې تاسو دتل پاتی اوسېدو والا شي ته (يعنی
آخرت) ته پر فنا کېدونکي (يعنی دنيا) ته تر جيح ورکړئ اوله هغه سره مينه وکړئ .
( مشکوات المصابيح ص ۴۴۱،احمد وبيهقی في شعب الايمان(
) ۸ (حضرت عائشي رضی الله تعالی عنها ته نبي کريم صلي الله عليه وسلم وويل اې!مسکين (دڅه ورکولو پرته ) مه جوابه وه،که څه هم
دخرما يوه ټوټه ورکړې.
)بيا يي وويل ) اې عائشي! دمسکينانو سره مينه وکړه او هغوئ ځان ته نژدې کړه ځکه د قيامت په ورځ به الله جل جلاله تا ځان ته نژدې
کړي .
( مشکوات المصابيح ص ۴۴۷، احمد، و ترمذي وبيهقی فی شعب الايمان(
)۹ (حضرت ابو هريره رضی الله تعالی عنه وايي چي نبي کريم صلي الله عليه وسلم هدايت وکړی. چي ديوبې دينه ونعمت ( دولت،عزت او

نورو) ته په کتلو سره حسد مه کوه.ځکه تاته درک نشته چي له مرګه وروسته دالله جل جلاله سره د دې بې دینه لپاره یو قاتل یعنی دوزخ شته
چي دهغه دعذاب په وړاندي ددنیا د نعمتو څه حقیقت هم نشته.
( مشکوات المصابیح ص ۴۴۷،شرح السنه)
۱۰) (حضرت ابوذر رضی الله تعالی عنه وایي چي ماته زما دوست (سرور عالم صلي الله علېه وسلم )داوو شیانو امر وکړي.
۱) (ماته یي امر وکړید مسکینانو سره مینه وکړی اوهغوی ځان ته نژدی کړی.
۲) (امر یي وکړی چي ددنیا په حالاتو کښی هغه چاته ګوره چیله تا څخه کم وی، هغه چاته مه ګوره چي له تا څخه په(مال،دولت اونور) کښی
زیات وی.
۳) (امر یي وکړی چي وصیله رحمي وئ (یعنی دخلپوانو سرهغوره چلند کوئ او دهغوئ خیال وساتی) که څه هم خپلوان ستاڅخه مخ اړوی.
۴) (امریي وکړی رشتیا وایه که څه هم ترخه وی.
۵) (امر یي وکړی دالله جل جلاله (دامر) په وړاندی دهیڅ بدوینکي د بدویلو څخه مه بیریږه.
۶) (امر یي وکړی چي لَاحَوْلَ ولَاقَوتَ اِلابِالله۵ډیره لولی ځکه داکلمي تر عرش دلاندی خزاني څخه دی .

& nbsp;

( مشکوات المصابیح ص ۴۴۹،احمد)
۱۱) (حضرت معازبن جبل رضی الله تعالی عنه وایي چي نبی کریم صلي الله علېه وسلم چي کله زه دیمن د والي د ګورین په توګه ولیږلم نویي
وویل دخوند اخستلو څخه ځان وژغوره ځکه دالله جل جلاله بنده دخونداخیستونکی نه وي.
( مشکوات المصابیح ص ۴۴۹،بیهقی واحمد )
۱۲) (حضرت معاذ بن جبل رضی الله تعالی عنه وایي چي کله ما (دیمن د تلولو لپاره) په رکېب کښی پښه کېښوده نو رسول کریم صلي الله
علېه وسلم ماته آخري وصیت داوکړي چي اي معاذه! دخلګوسره په خوش اخلاقی سره مخ کیږه .

( مشکوات المصابیح ص ۴۳۲،ازمالک)
۱۳) (حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه وایي چي زه یو ورځ د نبي کریم صلي الله علېه وسلم وشاشاته تلما نبي کریم صلي الله علېه وسلم
نصیحت راته کوی او ویي ویل چي اي هلکه ! دالله جل جلاله (دحق) حفاظت وکړه الله جل جلاله ستا حفاظت کوی ، دالله جل جلاله خیال وسا
ته نو الله جل جلاله به ستا خیال وساتي،او چي کله سوال کوې نو دالله جل جلاله څخه یي کوه.اوچي کله کومک غواړي نو دالله جل جلاله څخه
یي غواړه ، اوښه غور وکړه چي که ټوله انسانان سره یو ځای ښي تاته دیو ګټي درسولو اراده وکړي نو تاته د دې څخه زیاته ګټه نشی درسولای
، کوم چي الله ستا لپاره لیکلي وي ،او که دټو لو په یو ځای کیدو سره دزیان رسولو اراده وکړي ، نو دې څخه زیات زیان نشی درر سولاي کوم
چي الله ستا لپاره لیکلي وي،
)بیا یي هدایت وکړی چي دتقدیر فیصلي لېکل شوی دي(
قلم پورته شوی دی اوصحفحي وچي شوې دی.
( مشکوات المصابیح ص ۴۵۳، احمد وترمذي)

)۱۴ (حضرت عبدالله بن مسعود رضی الله تعالی عنه وايي چي نبي کريم صلي الله علېه وسلم هدايت وکړی چي روح القدوس (حضرت
جبرائيل عليه السلام) زما په زړه کښی دا خبره اچولي ده (يعني دوحی په ذريعه يې را ښود لي ده) چي هيڅ څوک تر داسي وخته نه مري ترڅو
خپل رزق ( کومه اندازه چي د ده په تقدير کښی ليکل شوي وی) پوره نکړي (بيا يې وويل چي) خبردار! د الله جل جلاله څخه وبېرېږی، د رزق
په ګټلو کښی غوره طريقه اختياره کړی درزق ناوخته ګټل تاسو ودی خبری ته تيار نه کړی چي هغه دالله جل جلاله په نا فرمانی کی وګټی(او
درشوت ،سود او نو رو په ذريعه سره مو د نس وډکيدو ته تيار سی)ځکه چي کم دالله جل جلاله سره وی هغه ده الله جل جلاله په بندګی سره
پيدا کيږی.
) مشکوات المصابيح ص ۴۵۲، شرح السنه وبيهقی فی شعب الايمان (
)۱۵ (حضرت ابو هرېره رضی الله تعالی عنه وايي چي نبی کريم صلي الله علېه وسلم وويل چي د دنيا په شيانو کښي وي او هغه ته مه ګوره چي
ستا سو څخه په لوړه درجه کښی وي، په داسی کو لو سره د دالله جل جلاله د هغه نعمت بې عزتي نه وشي چي کوم هغه تاسو ته درکړي دي.
) مشکوات المصابيح ص ۴۴۷،مسلم(
يعنی که تاسو پرمالدارو نظر واچوي ، چي ستا سو څخه په مال کښی زيات وي نو په زړه کښی واياست چي الله جل جلاله وه ده ته څومره
نعمتونه ورکړی دي مونږ ته يې نه دي راه کړی او همدا ډول تا سو د الله جل جلاله دنعمتو بي عزتي کونکی جوړ بږی او دافکر کوي چي الله جل
جلاله مونږ ته څه راکړی دي دهغه کوم حيثيت نه دي، نعمتو نه خو په اصل کښی اميرانو ته رسيږي له دې وجې اميرانو ته مه ګوری ، بلکه
هغه ته ګوري چي له تاسو څخه په مال او نورو کښی کم وی (تر سو دالله جل جلاله شکر اداشی.(
)۱۶ (حضرت ابن مسعود رضی الله تعالی عنه وايي چي نبي کريم صلي الله علېه وسلم وويل چي شتملی مه حاصلوی ځله له دې وجي مو په
دنيا کښی زړه تړل کيږی
) مشکوات المصابيح ص ۴۴۱،تر مذی بيهقی فی شعب ال ايمان(
)۱۷ (حضرت ابوذر رضی الله تعالی عنه وايي چي نبي کريم صلي الله علېه وسلم ماته وويل چي ته دهيڅ سره او تور څخه غوره نه يی ، هوکه په
تقوا کښی زيات وې نو غوره کېدای شي ،
) مشکوات المصابيح ص ۴۴۳،احمد (
يعنی دښه والي او بروالي معيار رنګ نه دي بلکه تقوا او پرهيز ګاري ده.
)۱۸ (حضرت عائشه رضی الله تعالی عنها وايي چي نبي کريم صلي الله علېه وسلم وويل چي زما رب ماته د نو شيانو امر کړي دی
(څلور ځيزونه وجود ويجاړه وي:

أ. تشويش / خفګان
ب. غم / انديښنه
ت. لوږه او
ث. د شپې له خوا تر ناوخته وېښ پاتې کيدل

۳ (څلور ځيزونه د مخ نور او خوښی له منځه وړي

أ. درواغ
ب. بي احترامي / بي ادبي / بي حيايي (د پوهي سره سره پر يو ناسم ځيز ټينګار کول(
ت. له پوهي پرته پر يو ځيز جر او بحث کول

ث. بد اخلاقي (له بيرې پرته د يو ناوړه كار ترسره كول(
۴ (څلور څيزونه د مخ نور او خوښی زياتوي
أ. ديندارې / له خدای بيره
ب. وفاداري
ت. سخاوت / وركړه
ث. د يو چا سره مرسته كول پرته له دې چې هغه يې در څخه غوښتنه وكړي
۵ (څلور څيزونه روزي كمه يا ټالوي
أ. د ګهيځ خوب (د لمونځ څخه وروسته تر لمر ختو پورې(
ب. كم عبادت
ت. تنبلي / بيكاري او
ث. ټګي / خيانت
۶ (څلور څيزونه روزي زياتوي
أ. د شپې له خوا د تهجد لمونځ / عبادت كول
ب. پر خپلو ګناهونو پښيماني او توبه ايستل
ت. د خيرات او صدقې وركول
ث. او تل د پروردګار ښتن يادول
د اسلام سپيڅلي پيغمبر همدا رنګه فرمايي:
كه چېرې تاسو كوم ايت مباركه اوريدلی وي هغه بايد نورو ته ورسوئ، دغه ايت به د قيامت په ورځ ستاسو شفاعت وكړي.
دغه مباركي خبرې په خپل ورځني ژوند كي د عمل په هيله
څوك چې په اصل كي لوی دي هغه دلويي لاپې نه وهي
داچې اوس درته حاضر دی ښه په غور ورته ګوره ولې چې آخر به ددغو دوستانو په جدايي لاسونه مروړې
زياتره مرګونه په توره او ټوپك نه كيږي لكه زياترخونونه په ژبه كيږي
په بوډا توب كي چې كوم كس بدكاره وي ابليس يې وګنه
له بې وفا سړي نه وفاداره سپی څو چنده بهتر دی
رښتيني ياران پس له مرګه څخه هم جدا نه وي
په كوم كوركي چې پاك لمنه ښځه وي دهغې دنور له وجې ټوله خونه روښانه وي
كوم خوند چې دزړه په سترګو دديدن دی هغه خوند د رڼو سترګو په ديدن
كي نشته
دچاسره چې دې دزړه له تله دوستي وي كه دهغه له خولې ترخې خبرې اورې ښه شيرين خواب وركوه
دهغو خلكو دنيا نابوده ده چې پيسي په كوركي ږدي او ټولوي يې دغه خلك په شته مال كي هيڅ نه لري
-ددې په ځای چې ټول عمر په تيارو لعنتونه وايي له ځانه يوه كوچنۍ شمعه جوړه كړه
-2له محال اونامكن نه چاپوښتنه وكړه چې چيری اوسی ؟ هغه وويل : دعاجزانو په خوبونوكې
-3هغه څوک پياوړی ندی چې هروخت جګړه ګټي بلكې هغه څوک كمزوری دی چې تل يې سوله بايللې وي.
-4ترڅو چې ته دبيا له پاره په پښو دربدلی شي په ناكامی مه خپه كيږ ه
-5په كوم كور كي چې كتاب نه وي هغه بی روحه كوردی
بايد په خوښيو پسې وګرزو، غمونه مو خپله پيدا كولای شي.
۱۷ -كوچني متلونه هم د اوږدو تجربو پايله ده.
۱۸ -تعصب رڼې سترګې ړندوي او اوريدونكي غوږونه كڼولای شي.
۱۹ -د بريالیتوب راز په كلک هوډ او ټينګو ګامونو كي دی.
۲۰ -د انسان ښايست په درې څيزونو كي دی: علم، محبت او خپلواكي.
۲۱ -د دې لپاره چې د قاضي مخته ونه دريږې نو د قانون تر شا ځه.
۲۲ -له هغه چا څخه بدمرغه نشته چې تل نيكمرغه وي.
۲۳-په دې نړۍ كي جنت او دوزخ زموږ په خپلو لاسونو كي دی، د ښو سزا ښه او د بدو سزا بده وي.

۲۴ -تل لوېې لمبې له وړو بڅرکو رامنځته کیږي.
۲۵ -عمر او کلونه یوازې د هغو کسانو له دریځه درز باسي چې کله هې هم په خپلو قدمونو د تګ هوډ نه دی کړی.
۲۶ -که درواغو رنګ درلودای نو هره ورځ به مو په خوله کې لسګونه شنې زرغونې (رنګین کمان) جوړیدې، بې رنګې به لاس ته نه راتلونکې څیز وه.
۲ -7څوک په خپله نه غورځیږي، که لویږي له هماغه اړخه لویږي چې په الله پې تکیه نه وي کړې.
۲۸ -تل د لارې پیل ستونزمن وي، عقاب د الوتلو په لومړي پړاو کې بڼکې تویوي خو په اوج کې وزر ښورلو ته هم اړتیا نه لري.
۲۹ -دا هم بې دلیله نه ده چې په خپله خبره نه دریږو، موږ په داسې ځمکه کې اوسیږو چې هره ورځ په خپل شاوخوا څرخیږي.
۳۰ -همدا نن د خپلو خوږو لپاره د مینې څرګندونه وکړه، ښایي سبا احساس وي خو خواږه دوستان نه وي.

-33په یقین سره چې د عبادت ستړیاوې به درنه ولاړې شي، خو ثواب یې درته پاتېږي.
-34په یقین سره چې د ګناه خوند او لذت به درنه ولاړ شي، خو عذاب یې درته پاتېږي.
-افسوس چې ځوان نه پوهیږي او زوړ نه توانیږي.
۳۶ -هیڅ کله له هغه چا سره چې نه غواړي له تا سره وخت تیر کړي وخت مه تیروه.
۳۷ -په خپلو هیلو باور وکړئ او داسې وانګیرئ چې ګواکې ډیر زر به تر سره شي.
۳۸ -غصه په لیونتوب پیل کیږي او په پښیمانۍ پای ته رسیږي.
۳۹ -هغه څه چې واقع شوي دي باید وېې منو، او هغه څه چې راتلونکې دي کولای شو په خپله خوښه تر سره کړو.
۰ -خوښې وښنۍ، ان هغو کسانو ته چې له تاسې پې خوښې اخستې ده.
۴۱ -هغه چې له ژوند سره جوړیږي، بایلونکې دي. له ژوند سره مه جوړیږه، ژوند جوړ کړه.
۴۲ -که ژوند مو خوښیدای نو کله به مو د زوکړې پر مهال نه ژړل.
۴۳ -ملګرتوب یو د بل په څنګ کې اوسیدو ته نه وایي، بلکه یو دبل په زړه کې اوسیدل دي
-ځینې کسان لوی زیږي، ځینې لویي لاس ته راوړي، او ځینې نور بیا بې له دې چې وغواړي لویي لري.
۴۵ -د دې لپاره چې عمر مو اوږد وي نو باید ورو ژوند وکړو.
۴۶ -څوک چې زما مخالف دی، نه یوازې ماته زیان نه رسوي بلکه زما د پرمختګ لامل هم کیږي.
۴۷ -ملګري په یوازیتوب کې ورته او د باندې پې وستایه
-باران اوسه او ووریږه، مه پوښته چې خالي کاسې د چا دي.
۴۹ -د مهارت او ځیرکتیا نښه، د تر ټولو وړو په اړه تر ټولو ډیره پوهه ده.
۵۰ -د غلیمانو د شړلو ښه لار د ډیرو دوستانو درلودل دي.
۵۱ -موږ د نورو کسانو لارښوونه یوازې د لارې تر هغې برخې چې خپله مو طی کړې ده کولای شو او بس.
۵۲ - ډیر کسان دعا نه کوي، یوازې زاری کوي.
۵۳ -پر هغه چا ډاډ ولره چې ستا درې شیان درک کړای شي: په موسکا کې درد، په غصه کې مینه او په خپل وخت خاموشي
۵۴-کله چې یو سړی بل ته پور ورکړي، نو د پوروړي سوغات دې نه قبلوي
.
۵۵" -یوه شمعه دبلې شمعې په روښانه کولو سره هېڅ شی له لاسه نه ورکوي"
.
۵۶ -که زما ټول ملګري د یوه پل نه ځان غورځوي زه به د دوئ سره ځان ونه غورځوم . زه به لاندې ودریږم او دوئ به نیسم چې په ځمکه و نه غورځیږي.
۵۷ -غصه او لیونتوب په ټولو انسانانو کې یو ډول دی خو توپیر یې یواځې په ښکاره کولو کې دی.
۵۸ -په نړی کی د هغه لاس پشان مه کیږه چې ګلونه شکوی بلکه د هغه ګل پشان شه چې شکونکی ته هم خوشبوی ورکوی.
۵۹ -له ارسطو نه وپوښتل شول چې کومه خبره ډیره ښه ده
ځواب: هغه خبره چې د عقل سره برابره وي، بیا کومه خبره ښه ده؟ داسې خبره چې اوریدونکې یې ومنې. له دې وروسته کومه خبره؟ هغه خبره چې د هغې په هکله په بشپړ ډول ډاډه وي چې تر اخیر پورې ضرر ونلري بله کومه خبره ښه خبره هم شته؟
که چیرې هره خبره دغو لوړو خبرو ته ورته نه وي هغه د څناورو له غږ څخه ټیټه او بې ارزښته ده.
۶۰ -خنډونه بېرونکې بلاوې دي او یوازې هغه وخت ستا مخته دریږي چې ته له خپل هدف څخه مخ واړوې

-ستر سري څلور صفتونه لري کميني، ادب ،مهرباني او عدالت.
۶۲ -د ملګري په نيمګړتياوو پسی مه ګرځه او کنه بې ملګري به پاتې شې.
۶۳ -ماشومان د غټانو عمل ته ګوري، نه د هغوی نصيحتونو ته.
۶۵ -ماتې خوړل صرف يو شی په ډاګه کوي، هغه دا چې اراده مو د کاميابی لپاره کمزورې وه..
۶۶ -هيڅ شی دخدای (ج) په وړاندی دومره غوره نه دی لکه چې څوک خپل قهر دده دخوښی په غرض وزغمي.
۶۷ -دنيا پرستان هغو ته پاتې کيږي چې هر څومره د سيند اوبه وڅښي همغومر تږي وي.
۶۸-که کومه ورځ د عقل پلورل او اخيستل پيل شي نو ټول خلک به پلورونکي شي ځکه چې ټول خلک فکر کوي ډېر عقل لري.
۶۹ -که غواړی هوسايي موپه برخه شي خپله ژبه دشکايتونو اوګيلو نه ليري وساتئ.
۷۰ -په کوم زړه کي چې علم نه وي هغه دمړه په څېر دی
-دوه څيزونه د فکر وړ دي، يو شين آسمان چې وينم يې او پوهيږم چې نشته، او بل الله (ج) چې نه يې وينم او پوهيږم چې شته.
۷۲ -ژوند په منډه کولو ارزي، ان که بوټونه مو شکيدلي وي.
۷۳ -له دې نه چې درواغ آرامي راکړي، خوښ يم چې رښتيا مي وځوروي.
۷۴ -تور او تهمت د سکرو په څير دی، که ونه سوځي تورول کوي.
۷۵ -په کال کې يوازې دوې ورځي دي چې څه پکې نشي کولای، يوه پرون او بله سبا.
۷۶ -بريالی وايي: کار ستونزمن دی خو شونی، ناکام وايي: کار شونی دی خو ستونزمن
۷۷-هيڅکله تروخت مخکې بريالیتوب مه څرګندوه.
۷۸-کله چې پرمنقل کوم شي ايشي له پخلنځي بهر مه ځه.
۷۹ -کله چې څوک پرنجی کوي ووايه عافيت دې وي.
۸۰-هڅه وکړه پخواني ترلاسه شوي برياليتوبونه ستا دراتلونکوبرياليتوبونومخه ونه نيسي.
۸۱ -تل له ګناه سره انډوله سزا په نظر کې نيسه ړ
۸۲ -هيڅکله دښو فلمونو او کتابونو پاي چاته مه وايه.
۸۳ -دا اجازه مه ورکوه چې ستا کورنی او په خپله ته په کارونو کې دومره ډوب شئ چې ديو وخت ډوډی لپاره پريوه دسترخوان ديټوليدا وخت ونه لرئ.
۸۴ -دغه درې آرونه تل په ياد لره : ځان ته درناوی ، نورو ته درناوی ، اودخپلو کارونو او اعمالو په وړاندې دمسوليت احساس.
۸۵-هڅه وکړه زده کړې چې کله ماته خورې يا ناکامه کيږې ترې درس واخلې
۸۶ -له ټولو مهمه تيروتنه مو دا ده چې له تير وتنې وويريږو.
۸۷ -د ګړاوونو درد د هغو په زياتيدو سره کميږي.
۸۸ -ښه غوږ نيول بايد زده کړو، کله کله فرصت ډير ورو ورو دروازه ټکوي.
۸۹ -زده کړه يوازينی شتمني ده چې لوټماران يې نشي لوټلی.
۹۰ -که پورته کيدلای نشي نو د منې په څير راپريوزه تر څو په پريوتلو دې بل ته لوړتيا ورکړې.
.91زموږ نهه نوي په سلو کې انديښني هيڅ کله نه رښتيا کيږي. ديل کارنګي.
.92رهبره زموږ هدف ته ارزښت ورکوي. ډيرې ستونزې، ډير ارزښت. ادر بزرګ.
.93دا تاسې ياست چې خلکو ته ورزده کوی چې له ما سره څه ډول چلند وکړي. وين داير.
.94هيڅ کله د بل چا ښيګڼه نشو پيژندلای، تر هغې چې خپله يې ونه لرو. چينګ.
.95په دښمنی کې دوه رنګي نشته، کاش دوستان هم پر خپل وخت د دښمنانو په شان بې ريا وای. شريعتي.
.96څومره ناوخته مو پام کيوي چې ژوند يعني هماغه شيبې چې په ډيره بيړه مو د هغو د تيريدو هيله درلوده. ديل کارنګي.
.97که ټولو کولای شوای له خپلو استعدادونو څخه ښه ګټه پورته کړي، نړۍ به هماغه غوښتونکی جنت وو. ذکريا رازي.
.98انسان په هر کار کې بايد يوه شي چې چيرې ودريږي. فرانسوي متل.
.99مينه يوازينی ناروغي ده چې ناروغ ترې خوند اخلي. افلاطون.
.100موږ ته تر ټولو نږدې کسان، له موږ نه ډير ورک دي. ارد بزرګ.
د الله شکر ادا کوم چې دا وعده مې له مرګه مخکې پوره کړای شوه.
ښه نصيحت
♣هربې علمه عمل يورنځ وګنی،! اوهربې عمله علم يو بې ګټی شی.

# غــــــــــــــــــــــــوره ويـــــــــــــــناوي

♣ډيربد بخته هغه څوک دی چی پخپله مړشی خوګناه یې ژوندی وی، دیوداسی عمل بنسټ یې ایښی وی چی دهغه دمړینی وروسته ادامه پیداکوی.

♣که غواړی هوسایی موپه برخه شی خپله ژبه دشکایتونواوګیلو نه لیری وساتی.

♣دسترګوساتنه وکړئ، ځکه داده زړونو وردی اوټول افتونه له همدې لاری زړه ته ننوزی.

♣له غلا اوخیا نت څخه ډډه وکړئ، ځکه داعملونه لوړه اوفقررا منځ ته کوی.

♣څوک چی دالله(ج) په لارکی مشغول وی، الله(ج) به دهغه کارونه سرته رسوی.

♣دایمان تکمیل په جهاد، دروژې پوره والی په صدقه، دحج پوره والی په اوضحیه اودلمانځه تیروتنه په سجده سهوی سره پوره کیږی.

♣حقیقت دادی چی انسان یوډیر ضعیف اوناتوانه مخلوق دی،د حیرانتیاخبره داده چی څنګه له ډیرقوی اوزورورخدای(ج) څخه نافرمانی کوی.

♣خبرداراوسی،! چی جهاد پرینیږدی ځکه هرقوم چی دالله(ج) په لارکی جهاد پرایښی هغه خواراوذلیل شوی.

♣دچاچی ژړاپه وس کی نه وی پوره، هغه به په ژړیدونکوڅه مهربانی وکړی.

»دامیرالمومنین حضرت ابوبکرصد یق(رض) له ویناووڅخه«

دحضره عثمان رضی الله تعالی عنه غوره ویناوي

الله پاك تاسو ته دنيا يواځي ددې له پاره دركړېده چي آخرت پرې وغواړی

ز ه خو دځان له پاره داډېره بده اوسپکه ګڼم چي ورځ دې راباندې تېره شي اودقرآن كريم تلاوت پکي ونه كړم.

ټيټه وينا،ښکته كتل اومنځنی راشه درشه دايمان نښې دي.

خپل پيټی پر بل مه اچوئ، كه لږ وي يا ډېر.

له الله جل جلاله نه پرته له هيچا طمعه اووېره مه كوئ. يواځي له خپلو ګناوو وډار شئ.

كه چېرې مو ګناه ته زړه وي نوداسي ځای ولټوئ چي الله پاك هلته نه وی.

بده وينا دريو تنو ته زيان رسوي، ويناكوونكي ته، دچابد چي وايي اوڅوك چي ورته غوږ نيسي.

دقهر اوغضب په وخت كي ښه دوا چوپ پاتي كېدل دي.

دژوند له پاره يوه موخه ( هدف ) وټاكئ اوبيايي په ټول توان سره دلاسته كولو هڅي پيل كړئ، ښائي دبرياليتوب پړاو ته به ورسېږئ.

ټولي نيكی له حيا اوټولي بدی له بي حيايی سره تړلي دي.

ځيني وخت جرم ښنل مجرم ته نورهم زړور وركوي.

دهغه چا په وړاندې په لوړه لهجه غږېدا مه شرمېږئ چي د سترګو په اشاره نه پوهېږي.

دژبي ښوئېدل د قدم تر ښوئېدلو ډېر زيانمن تمامېدلای شي.

ګناه زړه نارامه كوي اوډاډ له منځه وړي.

څوك چي دانسان حق نه پېژني هغه ګويا د الله پاك حق هم نه دی پېژندلی.

څوك چي دانسان حق نه پېژني هغه ګويا د الله پاك حق هم نه دی پېژندلی.

پوهه انسان هغه دی چي په ډېر پام اواحتياط سره ګامونه اخلي.

الله پاك انسانان دځان له پاره پيداكړي دي، ځكه نو نه ښايي چي هغوی دبل چا شي.

زه په تياره كوركي دغسل ( ځان پريمينځلو ) له الله پاك نه د شرم اوحيا له وېرې اريان دريان پاتي كېږم.

په تنګسه كي دزغم له بركته الله پاك پر انسان اسانتيا راولي.

سخاوت دمال، عمل دعلم اود الله پاك رضا د اخلاص مېوه ده.

دقبر خوښي دهغو خلكو په برخه ده چي په دنيا ورته زندان ښكاري.

ځناور هم خپل څښتن پېژني خو انسان خپل خاوند نه پېژني .

ـپه كومه خبره چي نه پوهېږئ مه يي كوئ اوپه كومه چي پوهېږئ د داسي سړي په مخ كي يي له ويلو دريغ مه كوئ. چي په ارزښت يي پوهيږي.

ـ الله جل جلاله زماپرامت باندی ترټولوشيانودمخه لومونځ فرض كړی دی اودقيامت په ورځ به ترټولوشيانودمخه دلمانځه حساب ورسره كوی.

٢ ـ څوک چی پرالله جل جلاله اودقيامت پرورځ ايمان لری، دهغه لپاره پكارده چی همسايه ته تكليف ونه رسوی.

٣ -د چاسره چی ده مسلمان غم نه وی، هغه زمادامت څخه نه دی.

# غـــــــوره ويـــــــــــناوې

۴ـ و شتمنوخلګوته لړورځۍ، نوبه دالله جل جلاله نعمتونه ستاسوپه وړاندی خوار اوبې قدره نه وی.
۵ – حلال څیزونه چی هرڅومره خوړلای سی وې خورئ اوچی هرډول جامه په تن کولای سی په تن یې کړئ مګردوه څیزونه به په کی نه وی (۱) اصراف (۲) تکبر یانی لوئی.
۶ – له ښارڅخه چی داولاد لپاره کوم څیزراوړی لومړی یې لورته ورکوئ بیا زوئ ته.
۷ـ څوک چی دعلم په لارکی روان وی، الله تعالی دهغه لپاره دجنت لاره اسانه کوی.
۸ـ څوک چی دعلم دلټولوپه لار کی مړسي هغه شهیددی.
۹ – درې (۳) شیان داسی دی چی انسان ته له مرګه څخه ورسته په ښه ورځی (۱) صدقه جاریه (۲) هغه علم چی خلګ ګټه ځنی واخلی (۳) ښه اولادچی دهغه لپاره دعاوی کوی
۱۰ – له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وسوه :ترټولوغور(ګټور)عمل څه دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل :
(۱) لمونځ کول (۲) پرخپل وخت باندی، دموراوپلارخدمت کول (۳) جهادکول
۱۱ – دنیا دمومن لپاره زندان دی، اودکافرلپاره جنت.
۱۲ – دچاچی مرګ په یادوی اودمرګ لپاره تیاری کوی ،هغه ترټولوعقلمنددی.
الله جل جلاله دی موږاوتاسو ته پردغه خبرو دعمل کولو توفیق راکړی: آمین ثم آمین
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي:
۱ـ الله جل جلاله زماپرامت باندي ترټولوشيانودمخه لومونځ فرض کړی دی
.اودقيامت په ورځ به ترټولوشيانودمخه دلمانځه حساب ورسره کوي .
۲ـ څوک چي پرالله جل جلاله اودقيامت پرورځ ايمان لري، دهغه لپاره پکارده چي همسايه ته تکليف ونه رسوي.
۳ -د چاسره چي ده مسلمان غم نه وي، هغه زمادامت څخه نه دی.
۴ـ و شتمنوخلګوته لړورځۍ،نوبه دالله جل جلاله نعمتونه ستاسوپه وړاندي خواراوبې قدره نه وي .
۵ – حلال څيزونه چي هرڅومره خوړلای سی وې خورئ اوچي هرډول جامه په تن کولای سی په تن يې کړئ مګردوه څيزونه به په کي نه وي (۱ (
اصراف (۲) تکبرياني لوئي.
۶ – له ښارڅخه چي داولاد لپاره کوم څيزراوړی لومړی يې لورته ورکوئ بيا زوئ ته.
۷ـ څوک چي دعلم په لارکي روان وي، الله تعالی دهغه لپاره دجنت لاره اسانه کوي.
۸ـ څوک چي دعلم دلټولوپه لار کي مړسي هغه شهيددی.
۹ – درې (۳) شيان داسي دي چي انسان ته له مرګه څخه ورسته په ښه ورځي (۱) صدقه جاريه (۲) هغه علم چي خلګ ګټه ځني واخلي (۳) ښه
اولادچي دهغه لپاره دعاوي کوي
۱۰ – له رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه پوښتنه وسوه :ترټولوغور(ګټور)عمل څه دی؟رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل :
(۱) لمونځ
کول (۲) پرخپل وخت باندي،دموراوپلارخدمت کول (۳) جهادکول
۱۱ – دنيا دمومن لپاره زندان دی، اودکافرلپاره جنت.
۱۲ – دچاچي مرګ په يادوي اودمرګ لپاره تياري کوي ،هغه ترټولوعقلمنددی.
ترټولو ښه ملګری ښه کتاب دی.
♣رشوت هغه بلا ده چي انصاف خوري.
♣دبدسلوک ځواب نيکي ده .
♣عقلمند هغه دی چي د نورو غلطي هيره کړي.
♣داسي مه وايه چي شپه سوه بلکه داسي ووايه چي سهارراتلونکی دی.
♣دژبي جادو ترټولو خطرناک دی.
♣هردوست خير غوښتونکی نه دی.
♣د چمن هره غوټۍ نشي ګل کيدلای.
♣ښه خوی والا يوازې نه پاته کيږي.
♣څوک چي پرځان فتح حاصله نکړي پرنوروباندي فتحه حاصلول مشکل کاردی.

# غـــــــــــــــــــــــــــــوره ويـــــــــــــــــنـاوي

♣څوک چي د ميني اقرار نکوي تل به د نفرتونو په خرسيلاب کي لاهووي.
♣هره خنديدونکي ځيره دخوشحالي د زيري نماينده ګي نکوي.
-له ډيروګواښونواو خطرونومو ريښتني منيه تيره وي اود برياليتوب لوړوپوړونوته مورسوي.

-کله چي مو کوم شی له لاسه ورکړ پام کو ئ چي له هغه زده کړی درس او تجربه له لاسه ورنه کړئ

-دغه دري شيان تل په ياد ولره:

- ...له ځان سره مينه او ورته دره ناوی.

-له هر شی سره مينه او محبت درلودل.

-کوم کارونه چي دي کړيدي په ورين تندی دهغو مسوليت منل.
-داپه ياد ساته کله چي کوم شی غواړي اوترلاسه يي نه کړي دايو چانس او تصادف دی.
-که لوبه بدلول غواړئ نو لمړی يي دبدلولو اصول زده کړئ.
-ديو ي کو چنی جګړي، جنجا ل ا وخوابدون له امله خپلي ژوري او پخوانی اړيکي دلاسه مه ورکوئ.
کله چي وپوهيداست اشتبامو کړيده دهغي دلري کولولپاره ګړندي ګامونه پورته کړئ.
دورځنيو کارونو دمحاسبي لپاره دورځي يوه برخه په يوازيتو ب سره تيره وئ.
-بدلونونوته په خلاصوسترګوګوره ولي دهغوپه وړاندي خپل اهميت په اسانی سره دلاسه مه ورکوئ.
-کله ، کله پټه خوله غاښ ماتونکی ځواب دی.
-شرافتمندانه ژوند ولرئ ، ترځودژوندپه اوږدوالي کي خوښي اونيکمرغي يو ځل بيا وه ازموياست
-ستاسوترسيوري لاندي ، په کورنی کي ، دميني او محبت دخوښي چينه بهيږي ،تري ګټه پورته کړئ.
-کله چي مو له خپل نژدي ملګري سره داعوه او جنجال شي ،تيري ختاوي مه ورياده وئ، يوازي داوسنئ موضوع په اړه چي خبره موپری پورته شويده وغږيږئ ، داستاسولويي ده.
-خپله پوه له نوره سره ګده وئ ،دادپوهي دځلښت يوازنی لار ده ،ترڅوپوهه مو په کار او ګټه ولويږي ،
-ميني او محبت ته ترهرڅه لمړيتوب ورکړئ ، ځکه ابدي او غيري ارادي خوښي منځته راوړي،دولت اوقدرت بايدستاسو دميني په لاره کي خندنه شي او دميني په لاره کي وسيله وه اوسئ ،
-ښه ځانونه پوه کړئ ، چي دمنيي محبت اوزړه اړيکي ترټولو اړيکو غوره اوپياوړي تل پاته دي ، ددنيا دمقصداړيکوته اهميت مه ورکوئ ، په دي به مو مقصدترلاسه شي خودزړه اوروح خوښي نه شي ترلاسه کولاي.
-هغه اړيکي ډير ي ښه ، پاله چي په غيري ارادي ډول زړه ته خوښي او ډاډ ، روح ته تازه والی راوړي ،
-په کال کي يواري هغو ځايوته ځئ چي تراوسه نه ياست تللي.
-هغه وخت چي خپل برياليتوب ارزيابي کوي او ځيري يي نو غرورمه کوه لږ ژورفکر وکړ ه چي ددي برياليتو ب دلاسته راوړلو لپاره دي څه شی له لاسه ورکړيدی ،وخت ، عمر ،دوستان ،اوکه دولت ،
*/هغه خلګ چي ستا په برياليتوب کي درسره مرسته کړيده ،په ستونزوکي ستالاسو نيوی کړيدي هيڅوخت مه هيره وه دادلو ی او هوښيار سړی کاردی.
-ژوندته په سرسري سترګه مه ګوره . ژوريي وځيره .هرشيبه له پوره اهميت څخه ډکه ده په کارده چي په هغه اندازه ،يي په ارزښتناکه توګه و کاروي.
*دمشرانواوپوهانو خبروته غوږ نيسه ،دوي دژوند ښونځی ويلي دي له تجربويي بايد ګټه پورته کړي نه داچي ته خپله بيا تجربي تکرار کړي ژوندپه تجربوکي تيرکړيSee More.
♣ ترټولو ښه ملګری ښه کتاب دی.
♣رشوت هغه بلا ده چي انصاف خور
♣دبدسلوک ځواب نيکي ده .
♣عقلمند هغه دی چي د نورو غلطي هيره کړي.

## غــــــــــــــــــوره ويــــــــــــــــناوې

♣داسي مه وايه چي شپه سوه بلکه داسي ووايه چي سهار راتلونکی دی
♣ ...دژبي جادو ترټولو خطرناک دی.
♣هردوست خير غوښتونکی نه دی.

♣د چمن هره غوټۍ نشي ګل کيدلای.

♣ښه خوی والا يوازي نه پاته کيږي.

♣څوک چي پرځان فتح حاصله نکړي پرنوروباندي فتحه حاصلول مشکل کاردی.

♣څوک چي د ميني اقرار نکوي تل به د نفرتونو په خړسيلاب کي لاهووي.

♣هره خنديدونکي څيره دخوشحالي د زيري نماينده ګي نکوي

.خپل ځان عقل مند مه ګڼي د الله نه وډار شي او له بدو نه لاس واخلئ

.د ټولو په اجازه يو سړی په دوبی کي مزدوري کوله او خپل عربی ورته وويل کله چي خپل وطن ته ځي نو ما ته به د ستاسی د وطن يو عکس راوړی سړی ورته وويل په دوړو سترګو کله چي سړی په رخصتئ خپل وطن ته راغلی وو خلکو په ديوال پوری څپياکي تپلی وې نو د سړی د ديوال نه عکس يا تصوير واخيستو کله چي دوبی ته لاړو نه خپل عربی ته يی ورښکاره کړو عربی چي دا څپياکی په ديوال پوری وليدی نو ورته وويل چي شابس ډير ښه هيواد مو دی خو چي دا کاشي په سيمنټو کي ليږيدالی وای نو بيا به يی ډير خوند کړی وای